د 2026 کال د وړ غیر اتباعو لپاره د ګټو وړتیا

وروستي فدرالي بدلونونه ښایي د ځینو غیر اتباعو ډلو لپاره د ګټو وړتیا اغیزمنه کړي. لاندې جدول تشریح کوي چې دا بدلونونه څنګه پر ځانګړو کډوالۍ وضعیتونو تطبیقیږي او د TANF، SNAP او میډیکیډ (Medicaid) ترمنځ وړتیا څنګه توپیر لري.

مهمه یادونه:

دا د وړتیا لرونکو وضعیتونو بشپړ لېست نه دی. د ګټو لپاره وړتیا په کورنۍ کې د هر فرد د کډوالۍ وضعیت پر بنسټ ټاکل کیږي. د لاندې لېست شویو وضعیتونو لپاره، د پنځه کلن بندیز (د انتظار موده) وروسته له هغه نه تطبیقیږي چې یو کس د قانوني دایمي اوسېدونکي (LPR)/ګرین کارت لرونکی شي.

د کډوالۍ وضعیت / کټګوري	د SNAP خوراکي مرسته؟	د TANF نغدي مرسته؟	د اکتوبر 1، 2026 له نېټې څخه بشپړ میډیکیډ (Medicaid)؟	
			د هغو لویانو لپاره چې امیندواره نه وي	د 19 کلونو څخه کم عمر لرونکو یا امیندوارو کسانو لپاره
کډوال	✗	✓	✗	✓
د افغان او عراقي ځانګړي کډوالۍ ویزې (SIV) لرونکی	✓*	✓	✓*	✓
پناه اخیستونکی	✗	✓	✗	✓
ځیني افغان یا اوکراینې بشردوستانه پارول لرونکي	✗	✓	✗	✓
د انساني قاچاق قرباني	✗	✓	✗	✓
امریکایي-آسیایي	✓	✓	✓*	✓
قانوني دایمي اوسېدونکی (LPR) / ګرین کارت لرونکی چې وضعیت یې له پورته وضعیتونو څخه تعدیل شوی وي	هغه کسان چې پورته لېست شوي د کډوالۍ وضعیتونه لري، که د برنامې نور مقررات پوره کړي، نو د LPR/ګرین کارت لرونکي کېدو سره سم به د SNAP او میډیکیډ (Medicaid) لپاره وړ شي.			

** دا ډلې عموماً د LPR وضعیت سره راځي او له همدې امله پر شرایطو برابرې دي*

هغه کسان چې پورته لېست شوي حالتونه لري او لا تر اوسه د LPR/ګرین کارت لرونکي وضعیت نه لري، خو د میډیکیډ (Medicaid) د وړتیا نور ټول مقررات پوره کوي، ښایي بیا هم وکولای شي د بېرنیو خدماتو لپاره د میډیکیډ (Medicaid) پوښښ ترلاسه کړي.

د کارموندنې، روغتیایي پاملرنې، زده کړې او نورو برخو اړوند مرستې لپاره، د Office of New Americans (د نوو امریکایانو دفتر) ته په دې پته مراجعه وکړئ: dss.virginia.gov/community-and-volunteer-services/ona
او د Resources for Navigating Eligibility Changes (د وړتیا د بدلونونو د لارښود سرچینې) لپاره دې پتې ته مراجعه وکړئ:
dss.virginia.gov/relief/eligibilitychangeresources

د میډیکیډ (Medicaid) بدلونونو په اړه نور معلومات وګورئ په
dmas.virginia.gov/news-updates/new-federal-requirements-

VIRGINIA DEPARTMENT OF SOCIAL SERVICES

PASHTO